

HEALTH COMPLAINTS COMMISSIONER

# زما روغتیایی سوابق زما حقوق

پشتو | Pashto

د خوندی او اخلاقی روغتیایی پاملرنه څخه ملاتړ



# زما حقوق څه دی؟

تاسی د دی حق لری چه پوه شی چه کوم روغتیایی مالومات ستاسی په هکله ساتل شوی، څرنگه او ولی دا راټول شوی او د څه لپاره کارول کیږی.

تاسی کولای شی چه د خپلو روغتیایی سوابقو د لیدلو غوښتنه وکړی او بدلون پکښی راولی که ناسم وی. همداشان تاسی کولای شی چه د خپلو روغتیایی سوابقو استولو بل روغتیایی برابروونکی ته وکړی. که دا غوښتنی رد شی، تاسی د یوی لیکلی توضیح کولو مستحق یاست.

د زیاتو مالوماتو لپاره او یا د شکایتونو فورمه د ډکولو لپاره د **hcc.vic.gov.au** نه لیدنه وکړی.

**1300 582 113** ته د سهار 9 بجو تر ماَښام 5 بجو پوری د خپل شکایت په هکله د خبرو کولو لپاره زنگ ووهی.

HEALTH COMPLAINTS COMMISSIONER



# څوک زما روغتیایي سوابق لري؟

د روغتیایي خدمتونو برابروونکی لکه روغتونونه او غاښوونو ډاکتر او همداشان د غیر روغتیایي خدمتونو برابروونکی لکه ښوونځی، بیمې او د حکومت اداری ټول روغتیایي مالومات تولوي. هغوی کیدای شي ستاسی صحي سوابق، د معایناتو نتیجی، د ناروغی تصدیقونه، د درملو لست او نور ولري. که دوی سوابق جوړ کړی دوی یې مالک هم دی.

# دوی به څه مسؤلیت لري؟

روغتیایي مالومات باید ستاسی په رضایت راټول شي او یواځی د هماغه موخی لپاره چه راټول شوی دی وکارول شي. که د هغه هدف لپاره چه ارتباط ونلری ګټه ترینه واخستل شي دوی ستاسی موافقت ته اړتیا لري.

د دوی مالومات باید سم وی، ورځنی شوی وی (اپ تو دیت) او هم باید د دوی د کار سره ارتباط ولری چه ټولوي یې. دوی یې باید ذخیره، لیږدول او له منځه وړل په خوندی ټوګه وکړی چه ستاسی د محرمیت ساتنه وشی. که ستاسی برابروونکی بل ځای ته منتقل کیږی او یا تړل کیږی، دوی باید عامه خبرتیا ورکړی.

# زه څرنګه خپلو سوابقو ته لاسرسی لرلی شم؟

لومړی ګام به دا وی چه څوک چه ستاسی روغتیایي سوابق لری تماس ورسره ونیسی. که تاسی د دوی په ځواب قانع نوی، نو تاسی شکایت کولای شی.

د Health Complaints Commissioner (روغتیایي شکایتونو کمیشنر) د روغتیایي خدمتونو برابروونکو او هر خصوصی سازمان چه روغتیایي مالومات په ویکتوریا کښی ساتی شکایتونه سمبالوی.

شکایتونه دعامه سازمانونو په اړه چه د روغتیایي سوابقو کارول وی د اطلاعاتو ازاد کمیشنر ته راجع کیږی.

زمونږ دفتر ستاسی سره د لاسرسی او یا د اسنادو سمول (تصحیح)، توضیح غوښتنه، بخښنه او بیرته تر لاسه کول (ریفند) او یا هم بدلون راوستل چه څرنګه برابروونکی روغتیایي مالومات سمبالوی مرسته کوی.

زمونږ خدمتونه وړیا، محرم او بیطرفانه دی.

**زمونږ سره تماس**

د زیاتو مالوماتو لپاره او یا د شکایتونو فورمه د ډکولو لپاره د **hcc.vic.gov.au** نه لیدنه وکړی.

**1300 582 113** ته د سهار 9 بجو تر ماښام 5 بجو پوری د خپل شکایت په هکله د خبرو کولو لپاره زنګ ووهی.

مونږ ته ولیکی او یا خپله راشی په
Level 26, 570 Bourke Street, Melbourne Victoria 3000

کاڼه، په اوریدلو کی ستونزی او یا د خبری کړلو مشکلات لری؟ **relayservice.gov.au**

ترجمان ته اړتیا شته؟
د ترجمانی د دفتر نمبر TIS National: **131 450**

دا مالومات عمومی دی او موخه یې حقوقی مشوره نده